# شريعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۹۸ ګڼه / پنجشنبه ۲۵ شعبان‌المعظم ۱٤٤۵ هـ.ق / ۱۷ حوت ۱٤۰۲ هـ.ش / ۰۷ مارچ ۲۰۲٤ میلادي

## ترکمنستان کې د افغانستان صنعتي توکي نندارې ته وړاندې شول

د راپورونو له مخې د ترکمنستان په عشق‌آباد کې د افغان - ترکمن سوداګریز نندارتون جوړ شوی او د افغان صنعتکارانو توکي پکې نندارې ته وړاندې شوي دي. د ترېند خبري اژانس راپور ورکړی، چې د دواړو هېوادونو سوداګر د نندارتون په چوکاټ کې خبرې کوي.

د ترکمنستان سوداګرۍ او صنایعو خونې مسوولينو ويلي، چې دغه نندارتون به د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د دوه اړخيزو سوداګريزو او اقتصادي همکاريو د پراختيا، د سوداګريزو راکړو ورکړو د زياتوالي او له افغان شرکتونو سره د سوداګريزو همکاريو پراختيا ته زمينه برابره کړي.

د مالوماتو له مخې د دې نندارتون د پرانستې په مراسمو کې د دواړو هېوادونو د مسوولينو او خصوصي سکتور ترځنګ د ځلوېښت نورو هيوادونو استازو هم ګډون کړی و.

## د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداره ۱۰۰۰ تنه پر دندو ګماري



د يو پروګرام پر اساس چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې له لوري جوړ شوی، د تخنيکي او مسلکي زده کړو مرکزونو سلګونه ممتاز فارغين په دندو ګمارل کيږي. الحاج مولوي غلام حيدرشهامت، د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې سرپرست، د حکومت د رسنيو مرکز په يوه غونډه کې د دغه پروګرام جزئيات وړاندې کړل. نوموړي وويل چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو مرکزونو ۱۰۰۰ تنه فارغين په تدريجي توګه د قراردادي استاذانو په توګه په ولايتونو او مرکز کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو په مرکزونو کې ګمارل کېږي. ښاغلي مولوي شهامت زياته کړه چې په تخنيکي او مسلکي زده کړو مرکزونو کې ګمارل شوي استاذان له يوکال تدريس وروسته د يوې ټاکل شوې تګلارې پربنسټ، د تخنيکي او مسلکي زده کړو په اداره کې د رسمي استاذ په توګه ګمارل کېږي. ۷مخ

## له نړيوالو موسسو سره ۷ هوکړه ليکونه لاسليک شول




شريعت: د کار او ټولنيزو چارو وزارت له ۵ ملي او نړيوالو موسسو سره د فني او حرفوي زدکړو او له يتيمانو او بې سرپرسته ماشومانو د ملاتړ په برخو کې د ۱۶۶ ميليونه افغانيو په ارزښت ۷ قراردادونه لاسليک کړل.

غونډه پرون د کار او ټولنيزو چارو وزارت کې جوړه شوې وه، د نوموړي وزارت د کاري چارو مرستيال محمد زاهد، مالي او اداري مرستيال دين محمد حقبين، د موسساتو د همغږۍ مسوول حديدالله وزيري، د موسسو استازو او د رسنيو مسؤلينو ګډون کړي وو.

د کار او ټولنيزو چارو وزارت د کاري چارو مرستيال محمد زاهد وويل: د هېواد په بېلابيلو... ۷مخ

# برگزاری نشست به منظور رفع تداخل وظیفوی میان ادارات



نشست هيئت توظيف شده به منظور رفع تداخل وظيفوی ميان ادارات امارتی، برگزار شد. ارگ در خبرنامه‌يی نوشته است که نشست هيئت توظيف شده از جانب عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ القرآن و الحديث مولوی هبة‌الله آخندزاده «حفظه الله تعالی» به منظوررفع تداخل وظيفوی ميان ادارات امارتی، تحت رياست مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری رياست الوزرا و با اشتراک اعضای اين هيئت، برگزار شد. در اين نشست، چالش‌های فراراه اداره‌های ملی حفاظت محيط زيست و امتحانات، اداره تعليمات تخنيکی و مسلکی، رياست‌های تربيت بدنی و خط آهن، کرکت بورد و مرکز رسانه‌ها ارزيابی شد. سپس به منظور از ميان برداشتن تداخل وظيفوی ميان ادارات مختلف کشور با حضورداشت مسوولان و نمايندگان باصلاحيت آن ادارات، بحث وبررسی صورت گرفت و در زمينه تصاميم لازم اتخاذ شد.

## زابل کې د مخابراتي شبکو ۷۲ سايټونه فعاليږي

د زابل د مخابراتو رييس مولوي عبدالهادي يحیٰ له باختر آژانس سره په ځانګړې مرکه کې زابل کې د مخابراتي شبکو د ۷۲ سايټونو له فعالېدو خبر ورکړی، د دغه رياست چارواکي وايي د انټرنيټ په برخه کې به په راتلونکي کال کې زابل مرکز او ولسواليو ته ښه خدمات وړاندې شي، په خبره يې په خاک افغان، نوبهار، سيوري، او شاجوی ولسواليو کې ۳جي خدمات وړاندې شوي او په پلان کې لري، چې په لنډو وختونو کې ميزانه، شينکی، شملزائی، او ارغنداب ولسواليو کې هم د انټرنيټ ۳جي خدمات... ۷مخ

**د افغانستان بانک:**

## افغانۍ اوس با ارزښته کرنسۍ ده




د افغانستان بانک رييس ويلي: افغاني بانکنوټونه اوس ارزښت لرونکې کرنسي ده، چې د نړۍ په کچه درېيم ځای لري او د پولي واحد ارزښت ساتل په نظام کې د شفافيت او فساد نه شتون ثرګندونه کوي .د افغانستان بانک رييس هدايت الله بدري... ۷مخ

## د ابوريحان البيروني د ژوند په اړه دوه ورځنی سيمينار جوړ شو

د اسلامي تمدن او فرهنګ په وده کې د ابوريحان البيروني علمي مقام تر عنوان لاندې.

دغه سيمينار چې لومړۍ ورځ په کابل او دوهمه ورځ به په غزني کې وي، ټولټال ورته ۵۰ مقالې چمتو شوې وې چې له دې څخه ۳۳يې په ياد سيمينار کې لوستل کېږي او لا له وړاندې د يوه کتاب په بڼه چاپ شوې دي.د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د فرهنګ او هنر مرستيال عتيق الله عزيزي د ياد سيمينار په پرانيسته کې وويل چې افغانستان ډېر لوی لوی شخصيتونه او کادرونه لري چې بايد نوي نسل ته ور وپېژندل شي او دغه شخصيتونه يې د هېواد لپاره وياړ وباله.

نوموړی وايي چې اوس د نړۍ مختلف هېوادونه د ابوريحان البيروني له افکارو او آثارو څخه ګټه اخلي او په خبره يې، نوموړی عالم يوازې په يوه ټولنه او يا يوه هېواد سره نه دی تړلی، ...۷مخ

## له پنجشيره د اوبو د رالېږد پروژه پيلېږي

د رياست الوزرا سياسي مرستيال مولوي عبدالکبير ويلي، چې کابل کې د اوبو د کمښت ستونزې حل لپاره به له پنجشېره کابل ته د اوبو د انتقال پروژه پيل کړي.

نوموړي ورمه د نيالګيو ايښودلو په مراسمو کې ويلي چې په کابل کې د اوبو د کمښت ستونزې د حل په هدف به د پنجشېر د اوبو لېږدوني سيستم ته پام وشي او دغه پروژه به عملي شي.دا په داسې حال کې ده چې په وروستيو څو کلونو کې په کابل کې د اوبو د کمښت ستونزه په يوه جدي مسئله بدله شوې او ډېرى خلک يې اندېښمن کړي دي.

## د هرات له زلزله ځپلو سره د خوراکي توکو مرسته شوې



د خوړو نړيوال پروګرام وايي، په هرات ولايت کې يې له ۳۰۰۰ زرو زياتو زلزله ځپلو کورنيو سره د خوراکي توکو بيړنۍ مرستې کړې دي. د دغه پروګرام چارواکي وايي، د هرات زلزله ځپلي لا هم د افغانستان په ساړه ژمي او واورو کې نورو مرستو ته اړتيا لري. د خوړو نړېوال پروګرام پرون پر خپله ټويټر پاڼه يوه لنډه ويډيو خپره کړې چې په کې د هرات ولايت... ۷مخ

**سرمقاله**

## تر لاسه شوي فرصتونه له ضايع کېدو وساتئ!

دا د څښتن تعالی نه بدلېدونکې تګلاره ده چې پرخپلو بندګانو وخت پروخت بېلابېل حالات او د ازمايلو لپاره ښې او بدې ورځې راولي. په دې اساس د نورو اوسنيو او لرغونو قومونو په شان افغان ولس هم ډول ډول حالات ليدلي دي. مثلاً که يو وخت په کور د ننه د چنګيزيانو له لاسه تر انتهايي زيات ظلم و وحشت لاندې راغلي، بل وخت بيا همدې وګړو پر دکن او ډيلي حکومتونه کړي او د پارس پر زړه اصفهان يې هم خپل راج چلولی دی. تردې چې بيا د کورني اخ و ډب او هوسپالنې له امله يوځل بيا په خپل کهاله کې د يو ډېر ليرې دښمن تر بريد لاندې راغلي او ښه ډېر ځپل شوي او کړېدلي دي. خو هماغه لوی بريتانوي ځواک بيا هم د همدې ملت د اتحاد او پيوستون له برکته سرکوزی تښتېدلی او زموږ نيکونو ته د خير او ښېګڼې يو بل فرصت په لاس ورغلی. دغه راز ياد فرصت بيا هم د واکمنو د غفلت او ځو غولېدلو پرديپالو د نه ايسارولو په وجه له لاسه وتلی او هېواد مو په کامله توګه د شورويانو له لاسه لوټه لوټه او تبا برباد شوی دی، خو د ملت د يووالي او بې سارې قربانۍ په نتيجه کې اخر پای شوروي ځواکونه هم مات ګوډ او پښېمانه تښتېدلي او موږ ته يو بل ډېر زرين فرصت په لاس راغلی چې له بده مرغه بيا هم د خپل منځي اختلافاتو پايله دا شوه چې ترشلو کلو پورې د مفسدو صليبيانو تر ناوړه اشغال لاندې ګير شولو او زموږ ترمنځ يې د اختلاف، بې دينۍ، بې شرمۍ او منافقت داسې تخمونه وکرل چې که هر څومره ريبل کيږي بيا هم راټو کيږي. اوس چې د افغان ولس د ناپايه سربښندنو او بې شمېره ستونزو او کړاوونو تر ګاللو وروسته د قادر خدای جل جلا له په يو ځانګړي فضل او مرحمت سره... ۷مخ

**گفتگوی ويژه با رييس اداره اترا**

## رشد سريع و کيفيت پايين؛ بررسی فرصت‌ها و چالش‌های صنعت مخابرات در افغانستان




شريعت: انقلاب تکنالوژی مخابرات در کمتر از دو دهه يکی از دست آوردهای جامعه بشری بوده که جهانی به اين بزرگی را به دهکده کوچک تبديل کرد و هر از گاهی رخداد های تازه و هيجان انگيزی در دامن اين پديده با يک رقابت تنگاتنگ جهانی در حال شکل گرفتن است. افغانستان نيز در سال های اخير در عرصه مخابرات جهش قابل ملاحظه‌ای داشته و در مقياس به کشورهای منطقه به ويژه کشورهای همسايه که خيلی بيشتر و پيشتر در اين زمينه تجربه دارند تا حدودی می‌تواند برابری ورقابت کند.

اکنون در اين کشور چندين شرکت مخابراتی ملی و بين المللی فعاليت دارند که در زمينه های اطلاعاتی ومخابراتی ارائه خدمات می نمايند و ميليونها دالر را وارد سيستم مالی افغانستان می‌نمايند. به‌گفته مسوولين در اداره اترا(اداره تنظيم خدمات مخابراتی افغانستان)بيشتر از نود درصد شهروندان کشور... ص۷

تاجيکستان ولې د افغانستان له خاورې د خطر احساس کوي!؟ ۲

جلو لجام گسيختگی بازار را بايد گرفت ۲

آيا فولکلور د علم مور ګڼل کېدای شي؟ ۵

افغان اعلانات ۶

# تاجیکستان ولې د افغانستان له خاورې د خطر احساس کوي؟!

**وحیدالله - هڅاند**




د اسلامي امارت له بیا ځلې واکمنېدو راهیسې ځینې ګاونډي هېوادونه له افغانستان سره په خپلو سرحدي سیمو کې امنیت ته اندېښمن دي او له دوی سره دا وېره پیدا شوې،چې خدای مه کړه، که سخت دریځې ډلې په افغانستان کې پیاوړې شي، د ګاونډیو هېوادونو سربېره به د سیمې هېوادونو ته هم ګواښ پېښ کړي. په داسې حال کې چې د اسلامي امارت په راتګ سره په ټول هېواد کې امنیت راغلی، ټپل شوې جګړه ختمه شوې، زور واکي او ټوپکسالاري له منځه تللې او د اسلامي امارت مشرتابه له لوري د غیر مسئولو کسانو څخه د ناقانونه وسلو د را ټولولو لپاره لازم تدابیر نیول شوي او دا پروسه په جدیت سره پر مخ روانه ده، اسلامي امارت هم په ځلونو په دې خبرې ټینګار کړی، چې د افغانستان خاوره به د هیڅ هېواد پر ضد ونه کارول شي او نه به چاته اجازه ورکړي، چې د ګاونډیو هېوادونو پر ضد د افغانستان له خاورې د سخت دریځی کار واخیستل شي.

د اسلامي امارت ویاند، ذبیح الله مجاهد د تاجیکستان وروستیو څرګندونو ته په غبرګون کې ویلي: د افغانستان له خاورې به ان شاءالله هیڅ هېواد ته ستونزې نه جوړېږي، په ځانګړې توګه هغه ګاونډي هېوادونه چې په شمال کې دي، ځیني وختونه یې اندېښنې رښتینې نه وي. اسلامي امارت هڅه کوي چې له ټولو هېوادونو په ځانګړې توګه له تاجیکستان سره ښې اړیکې جوړې کړي او د دواړو هېوادونو ترمنځ باید باور موجود وي او له افغانستانه د خطر احساس و نه شي.

دا چې اسلامي امارت هېچا ته د دې اجازه نه ورکوي، چې افغان خاوره د نورو په ضد وکارول شي او یا افغانستان د سیمې او نړۍ هېوادونو ته سرخوږی شي،نو د افغانستان په اړه ولې ځینو هېوادونو ته ورځ تر بلې اندېښنې راټوکېږي؟

له افغانستانه د ترهګرۍ او سخت دریځۍ د ګواښ شونتیا او داسې نورې اندېښنې په داسې حال کې مطرح کېږي،چې له یوې خوا همدغه هېوادونه په دې هڅه کې دي، چې د خپلو ګټو او داخلي پېښېدونکي ګواښ پر اساس د ترهګرۍ او سخت دریځۍ په اړه ورته څرګندونې وکړي، چې د دوی ګټې ګواښلی شي، له همدې امله په هره غونډه کې د خپلو ګټو او بېلابېلو روایاتو په ترلاسه کولو سره خپلې اندېښنې مطرح کوي، چې ګواکې افغانستان کې سخت دریځې ډلې پیاوړې نه شي، چې په دې سره د سیمې او نړۍ هېوادونو ته ګواښ پېښ شي.

دا په داسې حال کې ده چې پروسږ کال ګاونډي تاجیکستان د خپلې پولې د امنیت د ټینګښت په موخه له افغانستان سره پر پوله د دېوال جوړولو وړاندیز وکړ او روسیې په وار وار د افغانستان له پولو د ناامنیو د پراخېدو په اړه اندېښنه څرګندوله، خو اسلامي امارت د تروریستي ډلو د شتون او د ناامنیو خپرېدو په اړه هر ډول اندېښنه بې اساسه بولي، ځکه افغانستان اوس په سیمه کې د ترقۍ او اقتصاد بډاینې په مرکز بدل شوی او درګرده یې کاني زېرمې استخراجېږي، اوبه یې مهار کېږي، د رېل پټلۍ له لارې له اسیایي هېوادونو سره وصلېږي، د پردیو له احتیاجه خلاصېږي، د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره یې د سوداګریزې اړیکې پراخېږي، داخلي او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې زمینې برابرېږي، دا هر څه افغانستان کې د امنیت راتلو له برکته دي، که د افغانستان امنیتي اوضاع د تېرو لسیزو په شان خړه پړه وای، هېچا او لوري د خراب وضعیت له امله زړه نه ښه کاو، چې افغانستان کې دې پانګونه وکړي او یا دې ورسره سوداګریزې او ټرانزیټي اړیکې جوړې کړي!

که بیا هم ځینې هېوادونه د افغانستان د امنیت په اړه اندېښمن وي، نو مهرباني دې وکړي له اسلامي امارت سره دې یاده موضوع د خبرو او مذاکراتو له لارې حل کاندي، د دوی پر ژبه؛د سخت دریځو ډلو پر وړاندې دې له حاکم نظام سره په ګډه امنیتي تدابیر په پام کې ونیسي، څو د دغې نړیوالې ستونزې پر وړاندې مبارزه شوې وي. که دوی د داعش ډلې په اړه اندېښمن وي، چې کله ناکله په هېواد کې د چیرکي حملو مسئولیت اخلي، هیڅ اندېښنه دې نه کوي، ځکه د اسلامي امارت ځواکونو له لوري دغه پټنګره ډله له منځه تللې او په افغانستان کې دغه بهرنۍ پدیده د افغانانو ترمنځ د ودې او تکامل لاره نه شي خپلولی.

داعش ډله په سیمه کې د نړیوالو لویو استخباراتي کړیو د پلانونو د عملي کولو لپاره جوړه شوې، اصلي موخه یې د هېوادونو ناارامه کول او ترهګرۍ خپرول دي. د داعش عنوان او داعش پدیده د عربي هېوادونو د ځپلو، بدبختیو، جنګونو او ناخوالو لپاره جوړه شوې وه، چې دغه پدیده خپله د سي ،آی،اې د رهبرۍ تر چتر لاندې د انګلیستان له پلان سره سم جوړه شوې وه،له دې وړاندې هم ملګرو ملتونو او ګڼو نړیوالو هېوادونو د یادې ډلې پر وړاندې د سرپرست حکومت مبارزه ستایلې او ترسره شوي اقدامات یې اغېزناک بللي وو!


په دې وروستیو کې په سیمه ییزه او نړیواله کچه د نړیوالو تروریستي سازمانونو او شرکتونو په څېر نوي فعالین راڅرګند شوي،چې فعالیتونه یې یوازې په یوه هېواد پورې محدود نه دي، بلکې په څو هېوادونو کې فعالیت کوي، پر دې اساس د هېوادونو ترمنځ د امنیتي اطلاعاتو تبادله یو اغېزناک او ګټور اصل دی. د امنیتي معلوماتو په تبادلې سره د سیمې هېوادونه کولای شي په اسانۍ سره د ترهګرو ډلو د ورانکارو فعالیتونو د خپرېدو مخه ونیسي او په راتلونکې کې دغه ډلې د سیمې هېوادونو ته په لوی ګواښ بدلې نه شي! که اسلامي امارت او د سیمې هېوادونه په سیمه کې له ترهګرو ډلو سره موثره او دوامداره مبارزه غواړي، باید په ګډه د امنیتي اطلاعات یو له بل سره تبادله کړي.

لنډه داچې افغانستان کې د سخت دریځو ډلو شتون په اړه د تاجیکستان اندېښنه فرضي او خیالي ده،د دې خبرې ښه ثبوت،چې په افغانستان کې هیڅ کومه ترهګره ډله شتون نه لري د امریکا د ولسمشر جوبایډن اعتراف و.

اصلي خبره داده، چې ځیني هېوادونه د خپل شوم نیت له امله افغانستان کې د امنیت خرابوالي ته لابیګري کوي او د خپلو اجیرو ډلو ټپلو پرمټ غواړي د افغانستان امنیتي وضعیت خراب وښایي، تر څو د سیمې او نړۍ هېوادونه د افغانستان پرکانونو پانګونه ونه کړي، پرمختیایي پروژې په کې پلې نه شي، پر افغانانو د ترهګرۍ شتون ور وتپي او له هرې لارې او زاویې کوښښ کوي، چې د سیمې هېوادونه په افغانستان کې پانګونه ونه کړي، سوداګري او ټرانزیټ یې له خنډ سره مخ شي، پرېمانه اوبه یې مهار نه شي، نو اسلامي امارت مشرانو او کشرانو ته په کار ده، چې دغه ټکي ته پوره پاملرنه وکړي او په افغانستان کې پر دغه اوسنی ظرفیت، چې نور ورڅخه اندېښمن دي، په معنوي او مادي برخه کې پانګونې لارې چارې ولټوي او سیاسي کړیو او مغرضو هېوادونو ته د دې اجازه ورنه کړي، چې د افغانانو پر سر یو ځل بیا لابیګري وکړي او د افغانستان هغه معنوي او مادي مځکنۍ شتمني، چې افغانان څه کم پنځوس کاله ورته سترګې په لاره وو د تل لپاره تر خاورو لاندې بې ګټې پاتې شي!

# د حج مراسم او سترې نښې

**احمد راشد**



چا پوښتنه رانه وکړه ویل یې له کعبې څخه تاوېدل به نو څه ګټه لري؟ زه یې هم پرېشانه کړم، وروسته مې ځواب د مصطفی محمود په کتاب (حواري مع صدیقي الملحد=له ملحد ملګري سره زما خبرې اترې) کې وموند:

ملګري مې خبیثه موسکا وکړه او ویې ویل: (دا نه راسره منې چې ستاسو د حج مناسک ښکاره بت پرستي ده، هغه ډبرینه ودانۍ چې کعبه یې بولئ، هغه مسح کوئ او ترې تاوېږئ! شیطان په تیږو ولئ، د صفا او مروه تر منځ ځغلئ،حجر الاسود ښکلوئ، او اووه ځله طواف کوئ، دا د احرام سپینه جامه او دا نور ، خو د پخوانۍ جادوګري طلسمي رقمونه دي، زما په ښکاره خبرو مه خپه کېږه او مه مې ملامتوه ځکه په علم کې شرم او حیا نه شته.

ما په ارامۍ ورته وویل: د مادې قوانین خو دې لوستلي دي دا نه راسره منې، چې وړوکی د لوی شاوخوا تاوېږي الکترون په اتوم کې د هستې شاوخوا تاوېږي، ځمکه له لمره، لمر له کهکشانه، کهکشان له لوی کهکشانه لوی کهشکان له کلسټر څخه کلسټر له سوپر کلسټر څخه او همداسې په پای کې هغه ذات ته رسېږو چې مطلق لوی دی هغه الله ج دی ایا موږ دا نه وایو چې الله ج لوی دی؟ یعني له هر څه لوی دی، ته اوس له خپل لمریز نظام سره په ډېر سپکوالي ترې تاوېږي، نو په کایناتو کې هیڅ شی هم ثابت نه دی پرته له الله ج څخه، هغه بې اړتیا او ساکن دی، نور هر څه یې چاپېره تاوېږي او دا هغه قانون دی چې تا هم په فزیک کې لوستلي دي.

خو موږ له کعبې څخه په خپل اختیار تاوېږو ځکه هغه په نړۍ کې د عبادت لومړی ځای دی چې انسان د الله ج د عبادت لپاره ځانګړې کړې ده . دا د انسانیت له لومړي تاریخ څخه د الله ج کور او د هغه د بندګۍ رمز دی،ایا تاسې په کریملین کې د یو وچ سړي چاپېره نه تاوېږئ؟ درناوی یې نه کوئ او وایئ چې ده انسانیت ته ګټه ورسوله.

که د شکسپیر قبر مو ولیده نو موږ چې د رسول الله ص قبر ته څنګه ورځو تاسو به د شکسپیر قبر ته له موږه تېز ور روان یئ!

ایا تاسو له هغه ډبرین بت سره ګل نه ږدئ چې وایئ دا د ورک سرتیري سمبول دی؟!

نو بیا موږ ولې ملامتوئ چې ډبرې د شیطان په نوم ولو.ایا تاسې له پیدایښته مرګ ته نه ځغلئ چې له مرګه وروسته بله ځغاسته پیلیږي، دا هم د صفا او مروه تر منځ د منډو سمبول دی . هغه چینه د ژوند او وجود نښه ده ایا دا د مخلوقاتو رقاصي حرکت نه دی؟ ایا ته د حج په مناسکو کې د دغو رازونو یو ژور سمبولیک لنډیز نه وینې؟!

او په [۷] عدد دې چې ټوکه وکړه، زه له تا پوښتم: د موسیقي په اوو درجو(دو، ره ،مې، فا، سل، لا، سی یا دا:صول، لا، دو، ري، مي، فا) کې څه راز دی؟ اتم نه شته، که اووم پوره کړو بېرته لومړي ته راګرځو. نوري منشور هم اووه رنګه دی، الکترون هم په اوو مدارونو کې له هستې راتاوېږي. جنین هم په اوو میاشتو کې پوره کیږي او که له دې مخکې پیدا شي مړ کیږي. د اونۍ ورځې هم اووه دي. نو ایا دا هر څه د جادو رمزونه دي او ته هم بتپرست یې؟ ولې مو د هغه حجر الأسود په ښکلولو رانیسې چې رسول الله ص په خپل څادر کې اخیستی دی، په دې کې خو بت پرستي نه شته ځکه موږ یې بندګې نه کوو بلکې د ژورو معناوو او د تېرو یادونو لپاره دا هر څه کوو، د حج مراسم یو څو مناسبتونه دي چې په زړه کې د تقوی، او عبادت احساس راژوندی کوي، او د احرام هغه جامه چې مونږ یې اغوندو او شرط یې دا دی چې ګنډل شوې به نه وي هغه خو د نړۍ د جامو له زینته د وتلو او د الله ج په وړاندې د هغه یوازیتوب نښه ده چې له پیدایښته لږ وروسته مو همداسې جامې اغوستې وې، په همدې سپین رخت کې له دنیا وځو او قبر ته ورځو، ایا تاسې په رسمي لیدنو کتنو کې کوټ نه اغوندئ؟ د الله ج په وړاندې یوازېتوب او د دنیا له ښکلا څخه د وتلو نښه ده ځکه چې هغه له ټولو لوی پاچا دی

او په وړاندې یې شتمن، بې وزله، عزتمن او میلیونر ټول په یوه جامه کې ولاړ وي چې ټول د رتبو او شتمنیو له توپیر سره سره یو ځای سره ورونه دي. حج زموږ لوی کلنی کنفرانس دی او د جمعې لمونځ مو وړوکی اونیز کنفرانس دی.

که په دغو مراسمو کې لږ فکر وکړو نو ټول یې ډېرې ښکلې معناوې لري او له بت پرستۍ ډېرې لرې دي، که ته هلته له میلیونونو خلکو سره په یوه سرای کې ودرېږې او وګورې چې د شلو ژبو ویوونکي په یوه غږ قرآن کریم وایي، الله اکبر او تلبیه وایي، ژاړي ، اوښکې تویوي، او له الله ج سره خپله مینه ښکاره کوي نو که ته ورسره یې ته به هم وژاړې پرته له دې چې احساس یې وکړې او ځان به د میلیونونو خلکو تر منځ د الله ج په وړاندې یوازې ووینې!

# جلو لجام گسیختگی بازار را باید گرفت

**احمد**



با آمدن ماه مبارک رمضان، ماه مهمانی و ضیافت الهی، مسلمانان در سراسر جهان آمادگی می‌گیرند تا از این ماه مبارک، چنانی‌که شایسته آن است، پذیرایی و استقبال کنند. در ماه مبارک رمضان مسلمانان علاوه بر عبادات فرضی و نفلی در هر شغل و مسلکی که اند، تقوا، پرهیزگاری، انصاف، عدالت و خوش اخلاقی را پیشه می‌کنند تا سرحدی که تجار و عرضه کنندگان مواد اولیه، سعی می‌نمایند تا مواد با کیفیت و عالی را به قیمت مناسب، بدون مفاد، بخاطر رضا و خوشنودی خداوند عزوجل بر هموطنان مسلمان خود عرضه کنند تا از این رهگذر نیز اجر و پاداشی نصیب شان گردد. اما با تأسف که در کشور عزیز ما افغانستان از این ویژگی‌ها خبری نیست، شماری از تجار و دکانداران مواد اولیه تلاش می‌کنند تا به جای این‌که، انصاف، عدالت و تخفیف در مواد ضروری و اولیه را مدنظر بگیرند، برعکس مواد تاریخ گذشته و بی‌کیفیت را به قیمت گزاف، بدون اینکه حرمت ماه رمضان و وضعیت اقتصادی مردم را در نظر بگیرند، به شهروندان عرضه می‌دارند و هنوز که هنوز است در بازارهای ما قانون بازار آزاد یعنی، قانون (کاپیتالیسم) یا نظام سرمایه‌داری حاکم است، اگر این بازار کنترول نگردد، مانند، بیست سال پسین انارشیزم در بازار حکم فرما خواهد شد.

به گونه مثال قیمت یک سیر زغال بلوط که پیداوار کشور است، پیش از بارندگی‌ها، یک سیر آن ۲۷۰ افغانی به فروش می‌رسید، اما بعد از بارش برف و باران‌های اخیر، یک سیر آن بالاتر از ۵۰۰ افغانی در بازار به فروش می‌رسد که این موضوع خود وضعیت اسفبار بازار را نشان می‌دهد.

بنابرین اگر این روزها به بازارهای شهر هم سر بزنید به صراحت دیده می‌شود که مواد خوراکی تاریخ گذشته، بیشتر از همه، چهره نمایی می‌کند و از سبزیجات گرفته تا حبوبات و در کل مواد ارتزاقی همه سیر صعودی را می‌پیمایند و بازارها وضعیت لجام گسیخته را به خود گرفته که ادامه این وضعیت، نظر به توان اقتصادی مردم مظلوم ما غیر قابل قبول است.

روی این اساس باید شهرداری‌های شهرها، کنترول و بررسی بازارها را جزء از اولویت‌های کاری خود دانسته و از عرضه مواد بی‌کیفیت و تاریخ گذشته و هم‌چنان از افزایش قیمت‌های مواد اولیه و ضروری، جلوگیری کنند. هم‌چنان علمای کرام از منابر مساجد- تکایا در خطبه‌های روز جمعه به ضرر و زیان‌های بی‌عدالتی، بی‌انصافی، گران‌فروشی و احتکار در دنیا و آخرت، بپردازند و عرضه کنندگان مواد خوراکی و در کل مواد ارتزاقی را متوجه مسئولیت های ایمانی، دینی و انسانی‌شان نمایند.

# اهمیت محصولات افغانی در نمایشگاه ترکمنستان

**نوری**




برگزاری نمایشگاههای بین المللی می‌تواند به تبادل اطلاعات فنی و تجارتی و گسترش مبادلات تجاری، معرفی آخرین دستاوردهای علمی و صنعتی، گسترش همکاری‌های ملی و بین‌المللی، فراهم شدن تسهیلات، رشد بخش های مختلف اقتصادی، معرفی کالاها وانکشاف صادرات موثرواقع گردد.

آشنا شدن تولید کنندگان با ستندردها و معیارهای بین‌المللی تولید و صدوراموال و ارتقای سطح کمی و کیفی تولیدات با رعایت قوانین و ستندردهای بین‌المللی و نیز آشنایی با آخرین تکنالوژی‌ها و دستاوردهای روز دنیا، می‌تواند در پیشرفت علمی و صنعتی کشور نقش تعیین کننده یی ایفا کند. همچنین شناساندن پیشرفت‌های اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی و هنری کشور به جهانیان و نمایش قدرت تولیدی کشور از نمونه های مهم اقتدار ملی کشور است. بر علاوه برگزاری نمایشگاه بین‌المللی راهی برای خروج از انزوای سیاسی و مقابله با تحریم های اقتصادی بوده و حضور نمایندگان، تجارومقامات رسمی کشورهای مختلف نقش مهمی در این امر ایفا می کند.ازاین جهت نمایشگاهی محصولات تجارافغان در ترکمنستان میتواندتوجه تجارخارجی راجلب کند. نورالدین عزیزی سرپرست وزارت صنعت و تجارت امارت اسلامِی افغانستان در نشست تواصل تجاری افغان - ترکمن در عشق‌آباد گفته است که افغانستان ظرفیت مبدل شدن به یک کشور صنعتی را دارد.وی بر گسترش همکاری‌های اقتصادی و تجاری میان افغانستان و ترکمنستان نیز تاکید کرده است.افزون بر نشست تواصل تجاری افغان - ترکمن، نمایشگاه محصولات افغانستان در عشق‌آباد نیز با حضور برخی مسئولان اقتصادی ترکمنستان گشایش یافت. شمار زیادی از سفیران کشورهای منطقه و جهان، بیش از ۳۰۰ تاجر افغان و هیت اقتصادی امارت اسلامی افغانستان نیز در مراسم گشایش این نمایشگاه حضور داشتند.نورالدین عزیزی گفته است: «سیاست خارجی امارت اسلامی افغانستان یک سیاست مستقل، متوازن و اقتصادمحور است که استوار به هم‌گرایی منطقوی اقتصادی و تجارتی بوده است.» همینطورمیرگن قردوف رئیس اتاق تجارت و صنایع ترکمنستان نیز در باره روابط ایشان با افغانستان گفته است: «حجم مبادلات تجاری ترکمنستان و افغانستان در سال ۲۰۲۳ میلادی ۴۵۷ میلیون دالر بوده و تنها در ماه جنوری امسال به ۴۶ میلیون دالر رسیده است. اقلام مهم صادراتی ترکمنستان به افغانستان نفت، گاز و نساجی است.

به همین ترتیب مسوولان اقتصادی کشورهای شرکت کننده از محصولات داخلی افغانستان در این نمایش‌گاه دیدار کردند و به تعقیب آن، نشست تواصل تجارتی افغان - ترکمن راه‌اندازی شد.با این حال مسوولان در اتاق صنایع و معادن افغانستان با اشاره بر گسترش روابط بازرگانی، عملی‌سازی پروژه تاپی، راه‌آهن و انرژی را به سود اقتصاد افغانستان و ترکمنستان می‌دانند.سخی احمد پیمان معاون اول اتاق صنایع و معادن گفت: «پروژه تاپی بسیار پروژه مهم است هم برای افغانستان و هم برای ترکمنستان، بحث راه‌آهن افغانستان با ترکمنستان و همچنان موضوع مهم‌تر که ترکمنستان ظرفیت صادرات برق را دارد.»نمایشگاه محصولات افغانستان در ترکمنستان سه روز ادامه داشت و هدف آن بازاریابی برای محصولات افغانستان در ترکمنستان بود.۱۵ غرفه صنایع دستی ودگر محصولات زنان افغان نیز درمعرض نمایش گذاشته شده بود. امارت اسلامی افغانستان ازبدوحاکمیت خود همواره کوشیده که جهت معرفی تولیدات شرکتها و فابریکات نمایشگاه‌های را دایر و یا هم در نمایشگاه‌ها شرکت نماید که کنون ماشاهد حضور صنعت‌کاران و هیئت امارت اسلامی در نمایشگاه ترکمنستان هستیم.

# څو شېبې دغزې په وير کې!

**روان**

د ملګرو ملتونو د ښځو استازولۍ د شنبې په ورځ په خپل تازه راپور کې وويل چې د غـزې په روانه جګـړه کې تر (۹۰۰۰) پورې ښځې شهيدانی او په زرګونو نورې ټپياني شـوي او پـه سـلګونو زره نورې بـورې، ورارې، کونډې او لـه خپلو مېنو مهاجرې شـوي او په لرې او نږدې دښتو او ميرو کې تر شنه آسمان لاندې بې کوره او بې اوره دي.

د غـزې د جګړې او پـه دغه جګړه کې د اسـرائېلو د جنګـي جنايتونو دادې نږدې څلور مياشـتې پوره کېـږي. په دغه موده کې د خلکـو او پرګنو په کچـه د نړۍ په ګـوټ ګوټ کـې لاريونونه وشـول او د فلسـطين د مسـلمان ولس په ننګه يې د اسرائېلو او د هغو د نورو غربي ائتلافيونو پرضـد اعتراضـی غږونه پورتـه کړل او آن چې ځينو مسـيحي او يهـودي ټولنو او سـازمانونو هـم د اسـرائېلو جنايتونو وغندل، خـو د حکومتونو په کچه پرته له ايـران او يمن، نورو عربـي او غير عربي واکمنانو ډېر محافظـه کارانه موقف ونيو او ځينو خوېې لا تراوسـه د دغې جګړې پـه اړه د اف کلمـه هم له خولـې نه ده ايسـتلې. دغه برالا واقعيت په ګوته کوي چې په اسـلامي هېوادونو کې د خلکو او حکامو ليد لوريو ترمنـځ د فکر او عمل ترمنځ څومره واټـن دی؟؟؟ او تر کومې کچې يوتر بله سـره پردي دي؟؟ او همدا راز په دغو هېوادونو کې څه ډول کسـان حکومت کوي؟؟ او ددغې بې تفاوتۍ او که لږ په زغرده يې ووايو ددغې بې غيرتۍ علتونه څـه دي او په کوم ملي، انسـاني او اسـلامي اسـتدلال هغوی خپل دغه نه توجيه کېدونکی دريـځ توجيه کولای شي؟؟

په دغه ځآی کې د بنـي قينقاع غزا اصلی علت او انګيزه را ياده شـوه. هلته چې يوه مسـلمانه ښـځه دغه بازارته تللې وه او د يهوديانو له خوا د هغـې پر جامو او پرده ملنډې وهل شـوې وې او په همغه مهال يې په بازار کې مسلمانان دفاع ته را وبلل او يـو تن مسـلمان په بېـړه دهغه جاني يهودی سره ونښت او وې واژه او وروسته بيا نور يهوديان راغلل او هغه مسلمان يې هـم وواژه. کله چې ددغې پېښـې رپوټ پيغمبـر (ص) تـه راغی، سمدسـتي يې مسـلمانانوته امر وکړ چې هر څومره ژر لاړشـي او دغه يهوديان کلابند کړي او د دغه جنايت غچ ترې واخلي.

پـه دې ترتيب مسـلمانانو د يوې مومنې ښځې د جامو او پردې د توهين له امله پر هغو يهوديانو پوځي لښکر کشي وکړه او د خپلې مسلماني خور دفاع يې وکړه او ټول يهوديان يې لاس ترلي راوستل.

کله چې پيغمبر (ص) فرمايي: مسلمانان په خپلو کې سـره ورونه او خويندې دي، هدف يـې دادی چې دغـه ورور ګلوي يـوه تيوريکـه او ايديولوژيکه ورورګلوي ده او همـدا راز هم په سـيمه، قوم، نژاد او ... پورې تعلق نه لـري او لکه څرنګه چې اسـلام د ژوند د قانون په توګه د ټول بشريت لپاره راغلی دی، د ټولو مسلمانانو اړيکې هم بايد نړيوالې اوسـي او د نړۍ په هـر ګوټ کې چې د مسـلمان په حق تېری وشـی، لومړی خو بايـد هماغه د پېښې دسيمی مسلمانان د تېري کوونکي پر ضد و درېږي او د خپل مسـلمان ورور يا خور له ځـان، مال او عزت څخه دفاع وکړي (لکه د قينقاع په بازار کې چې هغه مسـلمان راغی او هماغه ګستاخ يهودي يې وواژه.)

او که دپېښـې په سـيمه کې خلکو دفاع ونه کړای شـوه، بيا نو په دويم قدم کې د ټولې پراخې سـيمې پرمسلمانانو دمظلوم مسـلمان دفاع فرض عيـن ګرځي او که دنږدې سـيمو او هېوادونـو زور هم ونه رسـيد، بيا خو دټولې نړۍ پرمسـلمانانو دهغه مظلوم دفاع کول فرض عين کېږي.

اوس تاسـو خپله سوچ وکړئ چې دغزې پـه جګـړه کې چې نهـه زره مسـلمانې ښـځې ديهوديانـو پـه لاس شـهيدانې شـوې اوپه زرګونو نورې يـې ګونډې او مهاجرې اوټپيانې شـولې او دټولو نارينه اوښځينه شـهيدانو شـمېره تردېرش زرو هم لوړه شوه او لاهم دوام لري اويوائې دحمـاس اسـلامي ګوند او حـزب الله او ديمـن انصاراللـه ګوند لـه ټولو ۲۲ هېوادونودفلسـطين دمسـلمانو ملاتـړ کوي؟

اوس پوښـتنه داده چـې دا نـور ميليوني عربـان ،عرب اومسـلمان نـه دي چې دفلسطين دمسـلمانانو ملاتړ وکړي ،کوم چې په زرګونو ښځې ،ماشومان ، بوډاګان او ...پکښـې دی او دشـهيدانو شـمېره ديرش زرو او ټپيانو شـمېره هم تراويا زرو جګه شوه اومهاجر خو بې حسابه دی؟

که دوی مسـلمان وي ، نو په دغه صورت کې خـو بيـا دمسـلمانانو پيغمبر(ص) ديـوې مؤمنـې ښـځې په توهيـن دغچ اخيسـتلو لپـاره پوځي لشکرکشـي وکړه ، نـو دوی څنګه دومره بې غيرته شـوي دي او چا نشـه کړي چـې هېڅ په هوښ نه راځـي اوکله به دوی پـه هوښ راځي اوله دغه شـرموونکی استعماری خوبه به راپاڅېږي اوکه به همداسـې بيده پاتې کېږي؟

آيا دوی کله هم په کتاب کې دبينی قينقاع غزوه لوسـتې اوعلت ته يې متوجه شوي دي؟


مـوږ پوهېـږو چـې دغـه پـه سـپينو جامو پوښـلي اوفرانسـوي عطرونـو کې معطر شـوي اوسـني عرب حاکمان کله هم دومره مېړنتوب نشي کولای چې اقلاً يو دوه سـوه تنه عرب ځوانان د فلسـطين دمسلمانانو ملاتړ ته ورولېږي اوکه پوځي دفاع هم ونـه کړي ،لږ ترلـږه خو يوڅو صندوقه دوا او يو څو صندوقه وچه ډوډۍ دغزې له کلابندو مسـلمانانو سره بشری مرسته وکړي.

همدغه حوثی يمنی مسـلمانان چې نن د فلسـطين د مسـلمانانو د پاڅون ملاتړ کوي، پرون دامريکې پـه هڅو دهمدغو عـرب حاکمانو سـره لاس اوګرېوان وو، خو هېڅ زورېې پرې ونه رسـېد او ښه شو چې يمني حوثي مسـلمانان دعربستان په مشـرۍ دجګړې په ډګر کې بريالي پاتې شـول او دا دي نن يې له هماغو حماسو او مېړانو په الهام سره داسرائيلو اوامريکی اوانګليس اوفرانسـې پروړاندې دحماس داسـلامي غورځنګ دحماسـو ملاتړ ته وردانګلي اوپه سـره بحيـره کې يې هم دغربي هېوادونو اواسـرائيلو دبېړيو پرضد مورچـل نيولـي دی، او داکار په واقعيت کې داسـرائيلو له خوا دغزې ترانګې دڅو کلنـې اقتصـادي کلابنـدۍ پروړاندې ، چې همدا اوس هم دوام لري، يومناسب اومتناسب غبرګون دي، آيا دوی ۲۱عرب هېوادونه داسـې کوم کار نشـي کولای؟ يقينـاً چې کولای يې شـی،خو دغربيانو له وېرې چـپ ناسـت دي او ټوله ورځ په راډيوګانـو اوتلويزيونو کې د اوداسـه مسـتحبات، دغسل موجبات او درمضان اوشوال د مياشتو فضايل بيانوي!

ايـا کله چې دښـمن توره پـه لاس درته ولاړه وي او تـر دېرش زرو پورې کسـان دې در ووژني ، دا وخت دتورې اومېړانی اوغيرت دی اوکه دمستحباتو دبيان ؟؟

باوروکـړئ چې دفلسـطين دمسـلمان ولـس پروړانـدې د ۲۱عربـی هېوادونو دغه مرتت اوبې غيرته دريځ، اسـرائيلو ته د فلسـطين د مسـلمانانو په وژلو کې جرئت ورکړی .همـدااوس هم که عربي هېوادونـه اويا يواځـي خليجي هېوادونه پراسـرائيلو خپل تيـل اوګاز ودروي، په بشـپړ اطمينان ويلای شـو چې اسرائيل به دغه سـيمه پرېږدي اوبېرته به اروپا او امريکا ته سـتنېږي ،ځکه له هماغه ځایه راغورځول شوي دي اوپه يوه مياشت کې به د ځمکې له نقشـې ورکېږي،خو دا کار هغه څه دي چې ددوی په وسـه کې نشته ، باوروکړئ چې يوه محـدوده اقتصادي کلابندي هم،اسـرائيل له پښو غورځوي ، خو داکار ددغو ماکسـي پوشو عربانو له سويې ډېر لوړ دی.

هيله لرو دکائناتو لـوی خدای دهمدغو څـو لـږه کيـو، خـو غيرتـي ځوانانو اومسـلمانانو داخـلاص اوصداقـت او مېړانې په بدل کې مسـلمانانوته سوبه په برخه او ديهودی فاشـيزم کمپله له آسـيا ټوله کړي.



# هغه څوک، چې وايي الله«ج» چېرې دی او ولې د غزې غچ نه اخلي؟!

سمسور

مسلم، احمد، نسائي او ابو داود د ابو هريره رض دا حديث را اخيستی:
رسول الله ص ته يوه ډله صحابه کرام راغلل ويې ويل: اې د الله ج رسوله، موږ په ځانونو کې داسې څه وينو چې په اړه يې غږېدل هم راته ستر کار ښکاري، موږ دا نه خوښوو چې دنيا لرو او هېڅکله يې په اړه خبرې نه کوو!
رسول الله ص ورته وويل: ايا داسې څه مو ليدلي؟
هغوی وويل: هو
رسول الله ص وويل: دغه نو څرګند ايمان دی!
فتنې او بحرانونه د شيطان لوبغالی او د مؤمن د ايمان د فاسدولو لپاره د هغه يو فرصت دی، چې د مؤمن په زړه کې د الله ج مقام بې ځايه کوي، په ځينو کارونو کې د الله ج حکمت را څخه پټ دی هغه وخت بيا يوازې په روانو حالاتو پوهېږو او بس، د چا په زړه کې بيا داسې سوالونه راګرځي چې په ويلو يې ډارېږي، نو ژر استغفار وايي، دا د ايمان نيمګړتيا نه بلکې بشپړتيا ده. هر وخت چې په کار کې حکمت در څخه ورک شو، نو دا کار اهل کار(الله ج) ته وسپاره، ځکه الله ج له هغه چا عادل او مهربان دی، چې څوک يې د قضا په اړه ګومان کوي او يا يې د پاچاهۍ او زور پوښتنه کوي په داسې حال کې چې موږ ټول د هغه غلامان يو.
شيطان به درته وايي الله هغه څه نه ويني چې په غزه کې روان دي؟ آيا هغه چا ته نه غوسه کېږي چې د ظلم له امله يې ماشومان له خاورو لاندې ژوندي پاتې دي؟ آيا د هغو ښځو غچ نه اخلي، چې توغندي يې بدنونه سره اړوي؟ د زړو ښځو څه ګناه ده چې وژل کېږي، سپين ږيرو څه کړي چې بدنونه يې څيرې کېږي؟
آيا الله ج نه شي کولای چې د الوتکو بمبار بند کړي او د توپونو خولې ور وتړي؟
لومړی: نړۍ د آزموينې ځای دی د جزا ځای نه شو ورته ويلی، ځکه الله ج به له بنده د هغه څه پوښتنه کوي چې پرې آزمايلی يې دی بنده نه شي کولای څو له الله ج وپوښتي، چې ولې دې په دې وآزمويلم! بايد با ادب وواسو
دوهم: هر څه د خپلې وروستۍ پايلې له مخې نيول کېږي نه د هغه څه له مخې چې روان دي، که ورګورې فرعون د ماشطې اولادونه په ګرمو غوړيو کې واچول چې هډونه يې وراسته شي بيا يې په خپله ماشطه هم ورو ويشتله، ښايي ته هم د ياد بنده په څېر چې انتقام ته ښه نه دی وپوښتې چې ولې الله ج د دغو وژل کېدونکو ماشومانو غچ نه اخلي ولې د دې خوارکۍ دفاع نه کوي؟
وګوره چې وروسته څه پېښ شول!
په فرعون باندې الله ج د سمندر پروژه تطبيق کړه او تل تر تله به په اور کې وي.
بل لور ته د ماشطې او د اولادونو بوی يې د معراج په شپه رسول الله ص ته په جنت کې ورغی.
درېيم: الله ج ظالم ته يو څه وخت ورکوي بيا يې په خپل ځواک رانيسي؛ بيا هم که چا درته وويل چې د هر ظلم ټاکلی وخت په دنيا کې دی نو ورته ووايه چې د قيامت ورځ د څه لپاره ده؟ د صراط لاره، تله او حساب د څه لپاره دي؟ جنت او اور د څه لپاره دي!
اصحاب الاخدود خو په دنيا کې وسوځېدل، الله ماشوم خپلې مور ته ګويا کړ: مورې ثابته اوسه ته په حقه يې! نو دواړه د اور په څپو کې ورک شول.
الله ج را ته نه دي ويلي، چې د دوی غچ مې په دنيا کې واخيست خو د قيامت په ورځ به دا کار خامخا کوي.
همداسې جګړې هم په ظاهري نتيجو نه دي ولاړې؛ که دلته دې ټولې لانجې وګټلې او که بيا هم په دوزخ کې ولوېدې نو تاواني يې! خو که وسوځول شې او ټوټه، ټوټه شې! په دې حالت کې که په حقه يې نو بيا هم په حقه يې!
څلورم: که الله په دنيا کې په هر ظالم خپل انتقام پلی کړي، نو په دنيا کې به د آزموينې عمليه له منځه لاړه شي. بل که چېرته حق له باطل سره په شخړه کې هره جګړه وګټله نو ټول خلک به يې ليکو ته ورمات شي.
خو الله غواړي چې له نړۍ څخه د زړونو زلزله او د پېښو تندرونه جوړکړي.
نو که تېری او جرم نه وي څنګه به بنده په خپل جهاد کې آزمويل کېږي بيا به يا مجاهدين وي يا به ناست خلک وي يا به بريالي وي ،يا به ګټونکي وي يا به سپکېدونکي او يا به د الله ج په لاره کې خيرات ورکوونکي وي يا به د شيطان په لاره کې بخيلان وي.
پنځم: له يوې ښځې سره د ولادت په وخت کې وينه، درد او هر څه وي، نو د يو امت حمل به څومره دروند وي هغه هم داسې امت چې عزت او شتمني لري.
که هغه وخت دې ابو جهل ليدلی و، چې سميې ته يې په ځمکه کې ميوږی ټکواهه ، پرې ويې ترله او بيا يې په نيزه ووهله نو ښايي تا به د اوس په څېر ويلي و چې خدای چېرې؟
خو زه له تا پوښتم چې اوس ابو جهل چېرې او سميه چېرې!؟
که هغه وخت دې بلال د مکې په ګرمو ورځو کې ليدلی و، چې په سينه يې غټه تيږه کېښودل شوې او شا ته يې اميه ولاړ دی ورته وايي چې لات او هبل ومنه هغه بيا هم احد، احد وايي، نو تا به ويلي و چې احد خدای چېرې دی؟!
بل دا چې که ته يوازې په دنيا کې بريا ووينې، نو نور بيا دا تمه هم نه لرې چې کوم بل بری به هم راشي، خو اوس پوهېږې چې مکه د هغه کسانو په لاس فتحه شوه چې څو کاله پخوا په کې ځورېدل او اوس په رښا ورځ له څلورو لوريو ورننوتل نو الله په هر څه کې وخت ټاکلی دی.



# د نظر په ساتلو ذهني سکون ترلاسه کړئ!

م حمادشيرزاد

الله تعالی په دنيا کې انسانان او نور مخلوقات پيدا کړي، انسان يې اشرف المخلوقات ګرځولی،همدا لامل دی،چې ټوله دنيا يې انسان ته مسخره کړې، تر څو ورځنۍ ګټه پورته کړي، خو له بل پلوه يې بيا ورته حدود هم ټاکلي، تر څو له يادو حدودو سرغړونه ونه کړي، د نظر ساتنه هم يو حد دی د الله تعالی له طرفه، په سورة النور کې الله تعالی فرمايي: خپلې سترګې ټيټې ساتئ، د خپلو شرمګاو ساتنه وکړئ، د نظر ساتنه همدا ده چې غلط پرې نه ګورې، نامحرم ته سترګې ورونه ګرځوې او اوس خو د ميډيا او موبايل دور دی، بايد موبايل کې که ځانته ناست وې او يا له نورو سره نامحرم او غلط شيانو ته په کې نظرونه کړې، الله تعالی يې خپله حکمت هم بيان کړی، چې ياده کړنه ستاسو لپاره ډېره ګټوره ده.
علماء وايي که په يو ځای کې دې په يوه ښځه ناپامۍ کې سترګې ولګېدلې، هغه نظر شريعت کې معاف دی، خو نحوست د ياد نظر بيا هم پاتې کېږي، که دې فکر وکړ ورته ذهن دې کمزوری کېږي، ذهني وړتيا دې له منځه وړي او همداسې نور، د نظر حفاظت او ساتنې سره د انسان د ذهن او مخ ښکلاء زياتېږي، د انسان په خبرو کې وزن پيدا کېږي، شرافت او رعب يې زياتېږي او همدا راز ذهني سکون خدای وربښي. د نظر ساتنې په اړه د علاج لپاره يو کيسه رايادہ شوه، يو ځوان يو عالم ته راغلو، ويل يې محترمه د سترګو د نظر ساتنه نشم کولای؛ هر وخت چې په بازار تيرېږم نو نجونو او ښځو ته ګورم، فکر او سوچ يې را خراب کړی، د دغه څه علاج او درمل راته وښايه؛ چې رب نجات راکړي او ذهني سکون ترلاسه کړم. عالم ورته وويل چې زه به علاج درته وښايم خو په يو شرط، ځوان ورته وويل هر شرط ته تيار يم، خو چې له دغه ناوړه مرض څخه خلاص شم.
عالم ورته وويل دا يو پياله شيدې به زموږ هغه بل ملګري ته چې د بازار هغې طرف ته يې جومات دی ورسوې، خو پام چې يو څاڅکی هم درنه ونه غورځوي او يو تن به د پيرې لپاره هم درسره ځي، که دې له پيالې يو څاڅکی هم وغورځولو، له علاج به هم محروم شې او ياد کس به تا په ډک بازار کې په دواړو مخونو وهي ؛ نومونږي پياله واخيسته او روان شو، په ډک بازار تېر شو، فکر او سوچ يې دغې ته و چې له پيالې کوم څاڅکی ونه غورځي، له علاج به محروم شم، په ډک بازار به بې عزته او سپک شم او ذهني سکون به هم ترلاسه نه کړم، پياله يې ورسوله او بېرته همدغه عالم ته راغلو.
عالم ترې وپوښتل چې پياله دې څنګه ورسوله، هغه وويل چې روغه او سالمه مې ورسوله، عالم بيا ورته وويل چې لاره کې دې په کومه نجلۍ نظر ولګېد؛ ځوان ويل نه صيب؛ هيڅ مې ونه ليدل، ځکه په خپل عزت ډارېدم.
عالم ورته وويل يو ورځ راروانه ده،چې قيامت ورته وايي هغه ورځ به د ټول مخلوق پر وړاندې رب درڅخه پوښتنه کوي چې فلان ځای کې دې ولې داسې بد نظر وکارولو، فلان کار دې ولې وکړ، آيا هغه عزت مهم دی او که يواځې د دغې دنيا چې له د دوه څپيړو او بازار کې له بې عزتۍ وډار شوې، هغه ځوان پوه شو او بيا يې د خپل نظر ساتنه تر پايه وکړه او ذهني سکون يې هم ترلاسه کړ.
الله تعالی دې موږ ټولو ته د نظر د ساتنې توفيق راکړي. امين



# ويټامين ډي

ډاکټر زاهد نايل




ويټامين ډي چې په شحمو کې د منحلو ويټامينونو له جملې څخه دی. يو له هغو ويټامينونو دی، چې توازن / لېول ته يې بايد پوره پاملرنه وشي. دا چې نومورې ويټامين په طبيعي توګه له خوړو او د لمر له وړانګو څخه په لاس راځي. نو بايد همزمان خپل ورځنی غذايي رژيم مو په ډي ويټامين غني خوړو باندې مشتمل واوسي او هم کافي د لمر وړانګې واخلو. د لمر له وړانګو نه ډي ويټامين د انسان د بدن د پوستکي په ذريعه ترلاسه او بيا د ځګر او پښتورګو په مرسته په فعالو ميټابوليټونو بدلېږي يعنې د وجود د استفادې وړ ګرځي.
نو بناً له خوړو پرته له دا بلې طبيعي لارې نه د ډي ويټامين د ترلاسه کولو لپاره بايد د پوستکي، ځګر او پښتورګو د روغتيا خيال وساتو تر څو مجبوره نشو چې له درملتونونو نه د ډي ويټامين مستحضرات وپېرو يا يې هم ډاکټران راته توصيه کړي.
په اول قدم کې د دغه مهم ويټامين د توازن د برقرار ساتلو يا په بله اصطلاح د کافي کچې ترلاسه کولو اسانه لار د لمر وړانګې دي، چې په ورځ کې ۵ دقيقې لمر هم بسنه کوي.
خو د لمر ماورا بنفش يا الټرا وايلټ وړانګو کچې يا (UV index) نه هم بايد باخبر واوسو. د دغو وړانګو په اړه د ځېرمن موبايلونو د هوا وړاندوينې اپليکېشنونه وخت په وخت اپډيټ (تازه مالومات) ورکوي چې هغه خطرناکه کچه (له ۷ تر لسو درجو خطرناکه او ۱۱ درجې ډېره خطري) يې زياتره غرمه (له ۱۱ تر ۲ بجو) مهال وي نو بايد په دغه وخت کې لمر ته له ډېرو مخ کېدو نه ځانونه وساتو.
او بل د ډي ويټامين د طبيعي ترلاسه کولو مهمې سرچينې زياتره نباتي خواړه دي لکه: ځيګر، د هګۍ ژېړ، شيدې، کوچ، پنير، پېروی او د ماهي د ځيګر تېل چې دا وروستي يې د دغه ويټامين تر ټولو بډايه سرچينه ده.
د تغذيې ځينې نړيوال ژورنالونه ويټامين ډي ته د بدن اړتيا، په شيدو رودونکو او نورو کوچنيانو کې ۱۰ مايکرو ګرامه (٤۰۰ IU)، په امېدوارو او شېدو ورکوونکو ميندو کې ۱۵+ مايکروګرامه يا ۶۰۰ IU او په نورو لويانو کې تر اويا کلنۍ ۱۵ مايکروګرامه خو تر هغې په ور پورته عمر کې ۸۰۰ IU يا ۲۰ مايکروګرامه ښيي نو دغه کچه تقريباً د لمر له وړانګو او له پورته يادو شويو خوړو څخه پوره کېدای شي.

# روزی اشک

**موسیعلیمرادی**

این توبه را اگر نپذیری کجا روم
دست مرا اگر تو نگیری کجا روم

گر نگذری ز روی سیاه جوانیم
موی سپید بر سر پیری کجا روم

محتاج توست بند به بند وجودمن
با این همه بساط فقیری کجا روم

روزی اشک اگر ندهی میکشی مرا
لب تشنه در هوای کویری کجا روم

من را بخر که بنده شاه جهان شوم
جز مدینه برای اسیری کجا روم

جانم بگیر و عاشقی ام را زمن نگیر
عشق نبی(ص) را که بگیری کجا روم

# غزل

**کاظم خان شیدا**

بې اجله هېڅ زنده پهٔ ضرر نهٔ مري
د فلک شمع پهٔ باد د سحر نهٔ مري

موافق د مخالف لکه آفتاب يم
چې شعله مې د چشمې پهٔ اثر نهٔ مري

پهٔ توندۍ کوه علاج د سرکشانو
د آتش لمبه پهٔ آب د ګوهر نهٔ مري

تناول د سم عادت که مرد هاله يې
مګس هم پهٔ لوزينه د شکر نهٔ مري

کهٔ ونهٔ که سرکشي زما آهونه
پهٔ آسمان کښې به چراغ د اختر نهٔ مري

زندګي يې وي شېدا ! تر مرګ بدتره
خسروان چې پهٔ خپل تخت و افسر نهٔ مري

# غزل

**احمدغازي**

هر چا چې ننګ کړی او هر چا چې ګټلی نظام
باور دې وشه چې هغوی نهٔ دی خوړلی نظام

د مايوسۍ پهٔ خادر پټ دی څوک يې غږ نهٔ اوري
د زړه پهٔ وينو يې راوړی سپين سپېڅلی نظام

چې تيار خور دې اموخته کړ بيا يې برخه ساته
ستأ پهٔ تازه راڅرګند شوي يار دې ښکلی نظام

د غره ملنګه! وېل د جنګ پهٔ سياست نهٔ پوهيږې
د سختۍ ورځې بيا راتلو ته يې ساتلی نظام

د شل کلنې جګړې ښکار مو څهٔ د کار سرې شول
پهٔ بــــــرکت يې شو را رڼګ پردو تپلی نظام

هغه اوس هم خيرن لاسونه وړي راوړي احمده!
چې د اشغال له ګرد غباره يې ژغورلی نظام

# آیا فولکلور د علم مور ګڼل کېدای شي؟

**حيات الله حليم**

انسانانو زرګونه کاله وړانـدې د خاورينې کرې پر مخ ګام ايښی او په دې اوږده سفر کې يې ډېرې سرې تودې تېرې کړې دي، لومړني انسانان به له يو بل نه په داسې جغرافياوو کې اوسېدل، چې يوې بلې ته به يې لارې نه وې سوری شوې او د هرې سيمې اوسېدونکو به ځانګړی دوديز کلتور درلود! کله چې موږ پوښتو آيا فولکلور په رښتيا هم د علم مور ګڼل کېدای شي؟ ځواب مثبت دی ځکه فولکلور يو روايت دي، چې د اساطيري زمانو د انسانانو کړه وړه يې له اوسنيو زمانو سره د افسانوي داستانونو او روايتي ادب په مرغلين تار نښلولې دي يا په بل عبارت د پخوانۍ زمانې فولکلور ته د اوسنۍ زمانې له ادب سره د نسبتي پيوند پر بنسټ تړاو ورکړل شوی ، که څه هم د پخوانۍ زمانې ادبيات هغه چې زموږ تر زمانې په مختلفو کتبي او شفاهي رواياتو را رسېدلي اکثره يې افسانوي بڼه لري، خو بيا هم په کې نغښتي حقيقتونه د ژورې څېړنې او مطالعې له مخې را برسېره کېدای شي او په نتيجه کې فولکور د علم مور ثابتېدای شي.

که په موضوع يو څه نور هم را تم شو، بېرته يې له سره پيلوو، مانا داچې کله بشر د ځمکې پرمخ ګام کېښود، نو د طبيعت د مظاهرو پر وړاندې چوپه خوله پاتې نشو او له خپل تفکر سره سمې څېړنې په کې وکړې څو يوه مثبته نتيجه په لاس را وړي خو داچې د بشرذهن د ژوندانه په لومړيو مرحلوکې دومره وده نه وه کړې، نو په بشپړ ډول يې ونشوای کړای چې طبيعت مهار او د هغه ټول اسرارکشف کړي، ورو، ورو يې پر له پسې پرمختګ وکړ، چې د همدغه پرمختګ په ترڅ کې يې د ادب په برخه کې هم د فولکلوريکو رواياتو په مرسته خپلې څېړنې او ګروېږنې د بلوغ سرحد ته ورسولې که چېرې د فولکلور او پخوانيو اساطيرو بېلا بېلې برخې او ډولونه تر ژورې کتنې او څېړنې لاندې ونيسو، نو په ښکاره به ووينو چې اساطير او روايات د لومړنيو توکمنو يوه قدنما هېنداره ده او د دوی فلسفي نظريات د فکر، طرز او نورخصوصيات په واضح توګه په کې ليدلای شو، خو له دغه حقيقته هم سترګې نشو پټولای، چې د فولکلور زياته برخه افسانې تشکيلوي، چې د يوې ټولنې ادبي او ټولنيز اړخونه ښه په کې تمثيلدای شي، نو همدا وجه ده، چې د تاريخ په اوږدو کې د بشر بېلا بېلو ډلو ټپلو د خپل ژوند او وخت له شرايطو سره سم د افسانو او رواياتو په جوړولو سره لاس پورې کړی او له دوی را پاتې روايات او افسانې دي چې اوس د دوی د فکرطرز، عقايد او نور خصوصيات موږ ته ښکاره کوي.

په هرصورت فولکلور د علم مور د هغه مظبوط پل حيثيت لري، چې موږ يې د افسانو او حقيقي رواياتو ترمنځ د حقيقت په لورپورې ايستلي يو او په ښه توګه يې د افسانو او واقيعتونو له يو بل څخه په تفکيک پوه کړي يو. د يوې بلې خبرې يادول هم اړين دي، چې فولکلور نه يوازې په افغانستان، بلکې د نړۍ د پرمختللو هېوادونو ادبيات زېږنده او د هغه پربنا له يوه نسل نه بل ته او له بل نه بل ته په ميراث پاتې شوي، دا هم څرګنده ده چې د نړۍ د ټولو ملتونو فولکلور که څه هم په بېلا بېلو او مختلفو خصايصو سره بيل دي، بيا هم په عمومي توګه ډېرشباهتونه لري او له ورايه ښکاري چې فولکلور هم له يوځای نه بل او له بل نه بل ځای ته تللی او د خلکو او ولسونو ترمنځ يې فولکلوريکې اړيکې ټينګې کړې دي.

په علمي اوڅېړنيزو مطالعاتو کې دا څرګنده شوې، چې فولکلور او تمدن له يوبل سره اړخ نه لګوي، ځکه کومه ټولنه چې پرمخ تللې ده هغه ټولنې فولکلور له منځه تللی او خپل ځای يې تمدن ته پرېښی وي اوکومه ټولنه کې چې مدنيت اغېزنه وي کړې او وروسته پاتې وي هلته فولکلورله اساطيري رواياتو سره تر اوسه ژوندی پاتې دی، خو دا په دې مانا نه ده چې خدای مکړه فولکلور د منځنيو پېړيو د يو اړخيز رواجونو زېږنده ده. داسې هم نه ده يوازې په فولکلورکې هم د نه منلو افسانوي مسايلو ته اشاره شوې وي چې لوړ پند او عبرت په کې نغښتی وي خير که يې د نن زمانې تمدن نه مني او له بله اړخه په فولکلورکې داسې مثبت روايات هم شته چې د يوې ټولنې ادبي تاريخ تربل هرڅه ښه په کې رو ښانه اوڅرګند وي زموږ آريايي تاريخ چې موږ پرې د خپل هېواد د لرغونتوب استناد کوو اکثره د همدغه رواياتو پربنا ولاړ دی او دا روايتونه که ټول افسانې وبولو، نو دامعلومات بيا له کومه شول او چا جوړکړل چې د آريانانو د ژوند ټول اړخونه يې روښانه کړي، ځکه د پخوانيو ادبي تحقيقاتو او اوسنيو تخليقاتو ترمنځ د ادب بداينې ته هڅه کېږي، نو له ناچارې څخه د ادب لرغونتوب ته هم مراجعه کېږي او کله چې هغه ته مراجعه وشوه، نو د هغه مرانډې د بشري ژوند له ډېرو لومړنيو مراحلو څخه بيا تر نن پورې په فولکلوريکو تنابونو پورې کلکې تړلې او سريښ پاتې شوی او يو ځل بيا په خپله دغه خبره ټينګار کوو چې د اوسني او پخواني ادب ترمنځ فولکوريک روايات د يوه عبوري پله بڼه لري.




# افغان اعلانات


**اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد**

بدینوسیله به تأسی از فقره (۱ و ۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود, اینکه وزارت ترانسپورت و هوانوردی در نظر دارد که قرارداد پروژه اعمار دیوار فینس و دروازه های میدان هوائی میمنه ولایت فاریاب دارای نمبر تشخیصیه MOTA/1402/NCB/W-41 را به شرکت خدمات زراعتی و مالداری، لوژستیکی ، ساختمانی و سرکسازی اسمعیل منصور که دارنده شماره جواز (۸۶۱۲۵) و آدرس آن مکرویان چهار شاهین مارکیت، مرکز کابل، افغانستان میباشد به قیمت مجموعی مبلغ (۴،۴۱۰،۰۰۰) چهار میلیون و چهار صدو ده هزار افغانی اعطا نماید اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی مدت هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست محترم تدارکات وزارت ترانسپورت و هوانوردی وفق احکام ماده پنجاه هم قانون تدارکات ارائیه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی, قرارداد منعقد نخواهد شد. ۴۹۵۳

***

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد جواز سیر واسطه پرادو پلیت نمبر ۱۳۹۶۱ تعلقه وزارت صنعت و تجارت مفقود گردیده یابنده آنرا به آمریت ترانسپورت وزارت صنعت و تجارت تسلیم نماید در غیر آن از اعتبار ساقط میباشد. ۳۵۱۳

***

**د (۳۳۸) قلمه داغل سويو توکو د ليلام خبرتيا!**

د افغانستان اسلامی امارت د ماليې وزارت غواړي، چې د (۱۴۰۳) کال د حمل مياشتي په (۷) نېټه (۳۳۸) قلمه داغل سوي جنسونه لکه (موټر سايکل، ميزونه او څوکۍ، د ټکنالوژۍ د وسايلو تخته، کمپيوټرونه، پرينټرونه، د موټر پرزې، د موټر ماشين، د موټر بېټرۍ، د موټر ټايرونه او ګڼ نور وسايل)

د دولت په ګټه په لوړه بيه ليلام کړي.

داوطلبان کولای سي، چي په ذکر سوې نېټه د (څرخي پله) په سيمه کي د ګمرکونو د ساتني قطعې ته حاضر سي او يا دي هم په لاندي شمېره اړيکه ونيسي (۰۷۸۰۶۲۵۴۳۸).

د تضمين (۱۵) سلنه پيسې د داوطلبۍ له پيل څخه مخکي نغدي اخيستل کېږي.

***

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**

محترم رحمت الله حکمت فرزند نظر محمد ولدیت شهزاده دارنده تذکره نمبر (۰۲۸۳۲- ۰۹۰۰- ۱۳۹۹) مسکونه اصلی ولایت میدان وردگ مالک امتیاز دواخانه حکمت واقع ناحیه پنجم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم عنایت الله عمری فرزند محمد انور ولدیت محمد اسحاق دارنده تذکره شماره (۰۳۰۴۴- ۰۹۰۰- ۱۴۰۰ ) مسکونه اصلی ولایت میدان وردگ گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۴۹۳۸

***

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی محترم میرزا فرزند حایج گل نبی یک عراده موتر پلیت ۵۶۷۲۲ ل کابل نوع بنز لاری جرمنی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای نجیب الله فرزند نایب خان بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۴۹۱۵

***

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی محترم شرکت غلام سرور لمتید یک عراده موتر پلیت ۱۴۵۷۶ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد نعیم فرزند عبدالکریم بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۴۹۳۱

***

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی محترم شرکت همراز لمتید یک عراده موتر پلیت ۷۹۶۹۶-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا کرولا سالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای جندر فرزند لعل گل بفروش رسانیده است.

